


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشرنيټه : 18 نوامبر 2018 م

# د عبرت يوه کيسه

يو سړی د بيړی له ډوبيدونه وروسته ژوندی پاتی کيږي . د اوبو موجونه دی يو کوچني ټاټوبې ته وړي . هغه يواځنی سړی وو چی ژوندی پاتی شوی وو ، له همدی کبله ټوله ورځ يی خدای ته دعا وکړه چی دی يی وژغوره.

هره ورځ يی سمندر خواته ته کتل که ګوندی کومه بيړی د ده ژغورنی ته راشي. بلاخره دی پوه شو چې څوک نه راځي او اميد يی قطع شو .

همدا وو چې ده ځانته کوډلی جوړه کړه تر څو ځان له باران او وحشي ځناورو څخه وساتي. خو يوه ورځ کله دی له ځنګله نه چې د خوړلو د پيدا کولو په موخه تللی وو راغی وينې چې اور او تور لوګی له کوډلی نه خيژي .

کوډلی د اور په لمبو کې ټوله وسوځيده. له بده مرغه د د ټول خوندي شوي خوراکي مواد هم وسوځيدل.

سړي په ژړا شو او خدای ته يی وويل:

ای خدايه تا داسی ولی راسره وکړل ؟

بله ورځ سهار وختې د بيړی غږ دی يی له خوبه پاڅوه . بيړی د ژغورولو لپاره راغلی وه . سړي بيړی وان څخه پوښتنه وکړه :

دا تاسي څنګه پوه شوی چې زه دلته يم ؟

ملاح ځواب ورکړ:

مونږ د اور او تور لوګي سګنال وليد ...

« هره واقعه چې زمونږ ژوند کی پيښيږي دا د ژغورولو سګنال دی چې خدای يی مونږ ته استوي.

***

محب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی